
د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه
Verein zur Förderung der afghanischen Kultur e. V.

# په افغانستان کې د ديموکراسۍ لسيزې د سيمينار ريپوټ

## 19.11.2010 , Hürth - Germany





درنو او پتمنو هيوادوالو !

د **2010** کال د نوامبر په **19** مه نيټه د جمعې په ورځ ، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه د آلمان د هيورت په ښارګوټي کې د يوه ښېرنيز ، نړيوال سيمينار ( افغانستان د ديموکراسي په لسيزه کې ) کوربه وه .

د سيمينار چلوونکی د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د مشرتابه جرګې غړی، ښاغلی ډاکټر شير ولي شير و ، چې ښاغلي ډاکټر د ټولنې د مشرتابه جرګې بل غړي ښاغلي مبارز ساپي څخه هيله وکړه تر څو سيمينار د قرآن کريم په مبارکو آياتونو سره پرانيزي .



ښاغلي ډاکټر شير



ښاغلي مبارز سافي




ښاغلي انجينيير استاد سيد حسن

نوموړی سيمينار د ښاغلي مبارز ساپي له خوا د قران کريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شو

وروسته ښاغلي ډاکټر شير د ټولنې مشر، ښاغلي انجينيير استاد سيد حسن څخه هيله وکړه تر څو پرانيستونکې وينا واوروي.

استاد وفرمايل :

,, ...سيمينار ته ويناوال،له آمريکا څخه د هيواد نامتو تاريخپوه ښاغلی پوهاند محمد حسن کاکړ، له فرانسې څخه وتلی قانون پوه ښاغلی پوهنوال ډاکټر روستار تره کې، له آلمان څخه پياوړی اقتصادپوه ښاغلی پروفيسور حيدر داور،له ناروې څخه وتلی ژورناليست ښاغلی طارق بزګر، له بلجيم څخه تکړه ژورنالست ښاغلی اسدالله هلالي او له سويډن څخه ښاغلی ډاکټر نجيب زاخيلوال ګډون کړی ,,

استاد په ولسواکۍ لنډې خو ژورې علمي خبرې وکړې وروسته يې په افغانستان کې د ديموکراسۍ په لسيزې رڼا واچوله. همدا راز استاد د هيواد اوسنی حالت وارزاوه او په هيواد کې د ديموکراسۍ په نامه فدراليزم وغانده .

ټولنې د سيمينار په وياړ لاندني اوه کتابونه د چاپ پر ګاڼه سمبال کړل :

1 _د ثور کودتا او د هغې ژورې پايلې

ليکوال: پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

2_ زما غوره ليکنې

ليکوال: پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ

3 _د سقراط، افلاتون، ارسطو، اپیکور او زینو په نظر بنــه انسان

لیکنه د هومر بالابانیس

سریزه او ژباړه د پوهاند محمد حسن کاکړ

4 *-الکترولیتي محلولونه او الکترو کیمیا*

***لیکوال پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند***

5 _د افغانستان له لارې هند ته د فرانسې او روسیې د لښکرکشیو پلانونه (تاریخي لاسوندونه (

راټولوونکی او ژباړن: محمد طاهر کانې


6 _د امیر دوست محمد خان دربار ته د روسي سفیر، سفر او پر هرات باندې د پارس ناکام یرغل

راټولوونکی او ژباړن: محمد طاهر کانې

7 - فرهنگیالی خوشال

د سیمینار د مقالو ټولګه، (د سرمحقق زلمي هیواد مل په زیار (


د دریو نورو کتابونو چاپ هم روان دی ،چې د چاپېدو وروسته به درنو هیوادوالو حضور ته وړاندې شي .





















د يادونې وړ ده چې ښاغلي ډاکټر صاحب عبدالصمد حامد د اساسي قانون د لويې جرګې د مسودو پروتوکول هم ټولنې ته اهدا کړی، چې ډير ژر به دوستانو خدمت ته ورسي .

استاد ، د ډاکټر صاحب همايون همت مادي مرستو څخه ډيره مننه وکړه، همدا راز استاد د ډاکټر صاحب ايمل صافي او محمد اکرم ملکزي مرستو منندوی و .

همدا راز د ټولنې مشر د ايونت پلاست کاري ټيم په خاصه توګه د شير علي خان شير مادي او تخنيکي مرستو خوښي څرګنده کړه، دوی ټولو ته يې د برياليتوبونو هيله وکړه .

په همدې ډول استاد د هيواد نامتو هنرمند اينجينير عبدالطيف راهي څخه د زړه له کومې مننه وکړه ، چې د سيمينار جشني برخه يې په خپلو ښکلو سندرو او ترانو لا ښکلې کړه .

په پای کې استاد د ټولنې په استازيتوب د ويناوالو او ټولو درنو هيوادوالو ، د ټولنې غړو اومينه والو څخه، چې د اروپا او آلمان د بيلابيلو ښارونو څخه، سيمينار ته راغلې وو د زړه له کومې مننه وکړه .

تر هغه وروسته پوهاند استاد کاکړ دعلمي برخې د مشر او ميرمن قمر وکيلي اڅکزۍ د مرستيالې په توګه د علمي برخې په مخ بيولو پيل وکړ .

لمړۍ مقاله خپله پوهاند صاحب ولوسته ، استاد ډيره علمي، تاريخي ، څيړنيزه او پراخه ليکنه کړې وه ،چې د ګډونوالو د پاملرنې او توجه وړ وګرځيده، استاد له پاچا ظاهر شاه تر د سرطان کودتا ،د هغه وخت پر ټولو برخو رڼا واچوله او ولسواکي يې د ديموکراسۍ په لسيزه کې برسي کړه .



ښاغلی پوهاند محمد حسن کاکړ



ښاغلی ډاکتر نجيب زاخيلوال

دوهمه مقاله، د ځوان ډاکټر نجیب زاخیلوال وه. ډاکټر زاخیلوال د دیموکراسۍ د لسیزې د نومیالې څیرو )ډاکټر عبدالصمد حامد ، اروابناد ډاکټر یوسف خان، اروابناد پوهاند سید شمس الدین مجروح، اروابناد عبدالله یفتلي ، اروابناد استاد عبدالرووف بینوا ، اروابناد نوراحمد اعتمادي،ډاکټر عبدالستار سیرت، اروابناد ډاکټر عبدالظاهر، اروابناد محمد موسی شفیق او نورو وتلو څیرو (په اړه پراخ معلومات د سیمینار ګډونوالو ته وړاندې کړل .

تر هغه وروسته پروفیسور حیدر داور خپله پر شوره مقاله واوروله، د اوسني حالت جاج یې اخیستی و او د هیواد په اقتصادي مسلو یې رڼا واچوله .



ښاغلی پروفیسور حیدر داور



ښاغلی پوهنوال ډاکټر روستار تره کی

بیا ښاغلي پوهنوال ډاکټر صاحب روستار تره کي ، خپله علمي او حقوقي مقاله ، چې د دیموکراسۍ د لسیزې په قانوني اړخ ) اساسي قانون ) لیکلې وه، درنو حضارو ته یې وړاندې کړه .همدا راز ښاغلي ډاکټر صاحب د دیموکراسۍ د لسیزې د ماتې او ناکامۍ په لاملونو بحث وکړ .

تر پوهنوال تره کي صاحب ، وروسته د هیواد تکړه ژورنالست ښاغلي اسد الله هلالي خپله مقاله ، چې د دیموکرايۍ د لسیزې د ګوندونو په اړه لیکلې وه ، درنو هیوادوالو ته واوروله .ښاغلي اسد الله هلالي د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې څخه ډیره مننه وکړه او د ټولنې هلې ځلې یې مثبتې و ارزولې.




ښاغلی اسدالله هلالي




ښاغلی طارق بزګر

تکړه او وتلی ځوان ژورنالیست او د دعوت مسوول مدیرښاغلی طارق بزګر د سیمینار بل ویناوال و ، چې په خپله علمي، تاریخي او کره وینا سره یې د دیموکراسۍ د لسیزې مثبت او منفي اړخونه و ارزول .

په پای کې ځوان لیکوال شیرزاد ساجد خپله لنډه وینا ،چې د دوستانو خوښه شوه ، درنو میلمنو ته واورله .

:**د یادونې وړ ده ،چې د معمول سره سم ,, افغانستان د دیموکراسۍ په لسیزه کې ,, د مقالو ټولګه به د ټولنې لخوا چاپ شي ، دوستان کولای شي چې ټولې مقالې هلته په بشپړ ډول ولولي .

په دې ډول د سیمینار علمي برخه پای ته ورسیده .

ټولنه هر کال د هیواد وتلو علمي او فرهنګي شخصیتونو درنښت په ستاینلیکونو کوي. سږکال هم ټولنې ښاغلي طاهر کانې ته،چې پښتو ته یې ډیر کتابونه ژباړلي ، ښاغلي احمد ولي اڅکزي ته د پښتو 50 آنلاین قاموسونو او د جرمني-پشتو د قاموس د خپراوي او ښاغلي شیر علي شیر ته ،چې د کالونو راهیسې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې سره په پرله پسې ډول مادي او تخنیکي مرستې کړي دي، ستاینلیکونه ورکړل .








ددې برخې په پای کې د شپې په 22:00 بجو تفریح اعلان شوه، تر هغه وروسته د ټنګ ټکور او موسیقۍ وار راورسید .

په دې برخه کې د هیواد تکړه او وتلي هنرمند ښاغلي اینجینیر لطیف راهي په ښکلو سندرو سره سیمینار لا ښکلی کړ ، چې دا برخه د نیمې شپې پورې وغځیده، په دې ډول یو بل تاریخي ، څیړنیز او نړیوال سیمینار پای ته ورسید .

دافغانستان د کلتوري ودې ټولنه به یو ځل بیا خپل ارزښتناک اثر ) دې سیمینار د مقالو ټولګه ) درنو هیوادوالو ته په افغاني مینې سره وړاندې کړي .

و من الله توفیق



په ډیر درنښت

د ټولنې د مشرتابه جرګه